دستروا کمن په سترنامه

هلمندد اطلاعاتواوفرهنګ رياست

# هلمند

اونيزه

۴۱

چهارشنبه

۱۴۴۳هـ ق جمادي الثاني ۱۶مه

۱۴۰۰هـ ل کال دمرغومي ۲۹ مه

دتأسيس کال ۱۳۳۳هـ ل

## د يونيسيف له لوري د هلمند اطلاعاتو او فرهنګ رياست کي د پوليو وايروس په اړه د عامه پوهاوي يو ورځنی سيمينار ورانديي سو






نېټه: ۱۴۴۳/۶/۱۲ هـ ق– ۱۴۰۰/۶/۲۵ هـ ق

هلمند ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست اړوند د غونډو په تالار کي د يونيسيف له لوري د پوليو وايروس په اړه د عامه پوهاوي يو ورځنی سيمينار وړاندي سو چي پکښي د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د کارکوونکو ترڅنګ د خلورم مخ ...

## په هلمند کي د (IOM) اداري له لوري د (۱۸۰۰) اړمنو کورنيو سره مرسته وسوه





نېټه: ۱۴۴۳/۶/۱۳هـ ق – ۱۴۰۰/۱۰/۲۶ هـ ل

په هلمند مرکز لښکرګاه کي د کډوالو او بيرته راستنېدونکو چارو رياست په همکارۍ د مهاجرت د نړيوال سازمان ( IOM ) اداري له لوري د(۱۸۰۰) اړمنو کورنيو سره د نغدي مرستو ترڅنګ د (۶۵) امريکايي ډالرو په ارزښت يو يو کيټ خلورم مخ .....

# د پولیو وایروس په هکله سیمینار ترسره سو

د ځینو رسنیو خبریالانو هم ګډون درلود.یاد سیمینار د حافظ سمیع الله (یاسر) صاحب لخوا د قرانکریم د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل سو، ورپسې ددغه سمینار د مسؤل محترم اغاولي لخوا د سیمینار ګډونوالو ته ښه راغلاست وویل سو. تر ښه راغلاست ویلو وروسته نوموړي خپل ترتیب سوی پرزینټېشن د سیمینار ګډونوالو ته پیل کړ نوموړي وویل :پولیو یو ساري ویروسي ناروغي ده چي له یو کس څخه بل کس ته د ځینو عواملو له امله خپرېږي، او زیاته یې کړه چي په دا ناروغۍ زیاتره د ۵ کالو څخه کم عمر لرونکي ماشومان اخته کیږي چي د ماشومانو د فلج سره سره ځیني وخت د هغوی د مړیني لامل کیږي، ده وویل چي پولیو ویروس د اعصابو هغه برخه تخریبوي کوم چي حرکي فعالیتونه ترسره کوي نو ځکه د پښې یا لاس د فلجېدو سبب کیږي. ښاغلي اغاولي زیاته کړه : چي د پولیو ناروغۍ درملنه ناشوني ده نو ځکه باید له وقایوي طریقې یعني واکسین څخه ددغه ناروغۍ د مخنیوي لپاره کار واخیستل سي. وروسته یې په افغانستان کي د پولیو د مثبتو پېښو په اړه د سیمینار ګډونوالو ته مالومات وړاندي کړل، ده وویل چي په ۲۰۲۰ میلادي کال په هیواد د پولیو ناروغۍ (۵۶) مثبتي پیښي ثبت سوي دي چي له جملې څخه یې په دغه ولایتونو لکه کندهار کي ۱۴ ، هلمند کي ۱۸ ، ارزګان کي ۴، زابل کي ۳ او نیمروز کي ۱ مثبته پېښه ثبت سوې ده. همدارنګه نوموړي د خوښۍ په څرګندولو سره وویل چي په ۲۰۲۱ میلادي کال کي د پولیو مثبتي پیښي د پام وړ راکښته سوې وې، ده وویل په ۲۰۲۱ میلادي کال کي په ټول هیواد کي یوازي ۳ مثبتي پیښي ثبت سوي چي د ۲۰۲۰ میلادي کال په پرتله خورا کمي دي.همداراز نوموړي ددغه ویروس د وقایې په اړه د سیمینار ګډونوالو ته وویل: چي د یاد ویروس د څخه د ماشومانو د ساتني اسانه لار واکسین دی چي لګښت یې هم لږ دی، ده زیاته کړه چي ددغه واکسین ترڅنګ له پولیو ضد پېچکاریو څخه هم کار اخیستلای سو چي تر واکسین ډېر ګټور دی خو لګښت یې زیات دی، همداراز یې زیاته کړه: چي د واکسین په ورکولو سره د ماشومانو په بدن کي انټي باډي جوړېږي چي د ماشوم بدن ته ویروس د داخلېدو سره سم له منځه ځي. همداراز نوموړي ددغه ویروس د نښو نښانو په اړه وویل: چي په دغه ناروغۍ اخته ۹۵ سلنه ناروغانو کي هیڅ نښي نه لیدل کیږي خو په ځینو کي یې نښي عبارت دي له نس ناستي، خوا ګرځي، اسهال، زکام او داسي نور... ده زیاته کړه چي دغه ویروس د خولې له لاري په ویروس دککړ لاس په واسطه ماشومانو ته انتقالیږي همدارنګه ککړي اوبه، ککړ خوراکي مواد او په ازاد محیط کي د غایطه موادو څخه روغ ماشومانو ته انتقالیږي. ښاغلي اغاولي زیاته کړه چي اوس مهال په ټوله نړۍ کي د پولیو (۳۵۰۰۰۰) درې سوه پنځوس زره واقعات ثبت سوي .ده وویل، چي موږ په افغانستان کي په هرکال کي ۴ ځله د پولیو ضد کمپاین ترسره کوو. نوموړي وویل: د پولیو ضد واکسین د لوړي ځل لپاره په ۱۹۵۳ میلادي کال کي جوړ سو او په ۱۹۵۷ میلادي کال کي تطبیق سو. د پرزینټېشن د پای ته رسېدو وروسته محترم اغاولي د اطلاعاتو او فرهنګ له رئیس، خبریالانو او د سیمینار له ګډونوالو وغوښتل ترڅو د پولیو ضد کمپاین کي له هري ممکنه لاري له دوی سره برخه واخلي ترڅو افغانستان له دغه ناوړه ویروس څخه وژغورل سي.یاد سیمینار د حافظ مولوي حمدالله (مدثر) له لوري په دعائیه وینا پای ته ورسېد.

# د (۱۸۰۰) اړمنو کورنیوسره مرسته وسوه

هم ورکړل سو.

د مرستو د وېش پرمهال د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو ریاست استازو هم ګډون درلود.

په یادو مرستو کي هري کورنۍ ته (۲۰۵۰۰) شل زره پنځه سوه افغانۍ او د(۶۵) امریکایي ډالرو په ارزښت یو کیټ ورکړل سو چي پکښې د ژمنیو اړتیاوو اړوند توکي شامل وه.

د (IOM) اداري له لوري دغه مرسته د سنګین او واشېر ولسوالۍ اړمنو کورنیو ته ورکړل سوه، د یادو نغدي مرستو ترڅنګ ددغه ولسوالیو اوسېدونکو ته د لاري د تګ راتګ لپاره (۱۵۰۰) افغانۍ هم ورکړل سوې چي له دې سره هري کورنۍ ته(۲۲۰۰۰) افغانۍ او یو د ژمني توکو کیټ ورسېد .

د یادوني وړ ده چي د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو ریاست په همکارۍ (IOM) اداري له دې وړاندي هم په هلمند ولایت کي له ګڼو اړمنو او غربت ځپلو کورنیو سره مرستي کړي دي.

کتن پلاوی :
ګل محمد (غورځنګ) اومحمدهاشم
دامتیاز خاونـــــــد : داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست
مسوول مدیر: سیدمحمد (حیرت)
داړیکي شمېرې :
(۰۷۰۰۹۰۰۵۵٦)
(۰۷٤۷۰۵۹۹۵٦)
Helmandjareda1333@gmail.com
انځورونه: باختر اژانس
چاپ: نشنل چاپخانه:
پته : دلښکرګـــــــــاه ښار

# سرمقاله:

## اســــــلام د امــــــن دین دي

امن د ژوند هغه مهمه اړتیا او دانساني فطرت غوښتنه ده چي په نه شتون کي يې ژوند خپل خوږوالی له لاسه ورکوي او بې امني د انساني ژوند پر ټولو برخو منفي اغېز شیندي خو د امن د سترنعمت څخه د برخمن کېدو لپاره ترټولو ښه لاره داده چي مسلمانان په مکمل ډول ځان په اسلام کي داخل کړي او يوازي اسلامي اصول د خپل ژوند تګلاره وټاکي ځکه؛ اسلام د امن ، سوکالی او سولي دين دی چي د ځمکي په مخ انسانان د هر ډول شر او فساد څخه منع کوي او قرانکريم ددې رښتينولی اصلي ترجمان دی خو په ځانګړي ډول مسلمان امت ته ډېره ضروري ده چي په قرانکريم باندي ځان پوه کړي او عمل پرې وکړي ترڅو ځان ته د خوښی ، امن او سوکالی ژوند غوره کړي، اسلام د ټولي نړۍ لپاره یو ځانګړی رحمت دی، اسلام د انسان په زړه کي د نېکی ، شرافت، عدل، انصاف او د تقوی د پيدا کيدو لپاره راغلی دی. د اسلام د راتګ څخه مخکي دعربو د قبيلو حالت دفساد څخه ډک وو پر معمولي خبرو به يې کلونه کلونه دښمنی کولې او په خپلو منځو کي به يې تل جګړې کولې په دوی کي قومي او نسلي تعصب د کلونو څخه نه بلکه د پيړيو څخه روان وو په رڼا ورځ به د خلکو مالونه لوټ کېدل او د شپې په تیارو سره به غلاګاني پيل کيدلې خو اسلام مبارک دين په ظهورسره انسانانو ته خبرداری ورکړل سو چي تاسي په خپلو منځو کي قتل او وينه تويونه کوی او په فساد کي اخته ياست مګر دا د رښتينولی او صداقت لاره نه ده تاسي پر يووالي او وحدت سره يو موټی سئ او په خپلو منځو کي يو له بل سره جګړې مه کوئ دا د امن سوکالی او برابرۍ سپېځلی پېغ وو، دا چي موږ مسلمان يو او د يوه سپېځلي پيغمبر(ص) امتيان يو نو په کارده چي دهغه لارښود نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ارشاداتو سره سم د ورورۍ په فضا کي ژوند وکړو.

داچي لله الحمد تر شل کلني جګړې وروسته زموږ په هيواد کي امن راغلی او تازه مو د ارامی ساه اخيستې راځئ چی ددې غوره فرصت څخه مثبت ګټه پورته کړو، د تيرو ترخو تجربو څخه يې زده کړو يو بل ته د ورورۍ غېږ خلاصه کړو دبهرني دُښمن په وړاندي متحد واوسو او د نړۍ دپرمختلو هيوادونو سر سيالي وکړو.

## سور صلیب د ملکه ثریا روغتون سره د درملو مرسته وکړه



نېټه: ۱۴۴۳/۶/۱۳ هـ ق– ۱۴۰۰/۱۰/۲۳ هـ ش

هلمند کي د سور صليب نړيوالي کمېټې (ICRC) له خوا د ملکه ثريا(۵۰) بستريز نسايي اوولادي روغتون سره د (۶۱) قلمه درملو چي ټول په (۱۳۹) كارتونو كي وه همكاري وكړه.

د ياد روغتون آمر ډاکتر محمد ولي همت باختر آژانس سره د خبروپرمهال د سور صليب نړيوالي اداري څخه د مننې ترڅنګ وويل: دې نسايي او ولادي روغتون ته هره ورځ د ناروغانو مراجعه زياته ده ،چي په وينا يې ياد درمل به يې د ۳ مياشتو لپاره د درملو د کمښت اړتيا ور پوره کړي. نوموړی وايي، د دوي سره د عامي روغتيا رياست له لوري هم درمل ورکول کېږي، خو زياته وي چي د زياتو ناروغانو د درملني او عملياتو پر مهال د درملو استعمال ډېروي، غوښتنه يې کول، چي د سور صليب په څېر دي نوري مرستندويه نړيوالي اداري هم د ورته درملو مرستي راسره وکړي.

د يادوني وړ ده، چي سور صليب د هلمند ترڅنګ په ټول هيواد کي د درملو تر څنګ په نورو برخو کي هم د خلکو سره مرستي کړي.

# د موسی کلا ولسوالۍ دعمومي وضعیت څېړنه و سوه

نېټه: ۱۴۴۳/۶/۱۳ هـ ق- ۱۴۰۰/۱۰/۲۶هـ ل

د هلمند د شمالي ولسوالیو لپاره ولایت مقام لخوا ټاکل سوي پلاوي په موسی کلا ولسوالۍ کې د عمومي وضعیت څېړنه او ارزونه وکړه. دغه پلاوی چې په رأس کې يې د ولايت مقام استازی محترم محسن حاجي مولوي صاحب قرار لري او په جوړښت کې يې د یوشمېر نورو ریاستونو لکه؛ امنیه قوماندانی، استخباراتو ، مرافعه محکمې، اطلاعاتو او فرهنګ، معارف، زراعت، عامي روغتیا، ښاروالۍ او محابسو اداري استازي هم ګډون لري دتیرو دوو ورځو په جریان کې يې د موسی کلا ولسوالۍ دعمومي وضعیت د څېړني او ارزوني چاري ترسره کړې. ددغه هیئت لخوا لومړی د يادي ولسوالۍ اړوند محبس کې له بندیانو سره دهغوی د بندي کېدو د لاملونو او د هغوی سره دمحبس د مسؤلینو دچال چلند په هکله بحث او خبري وسوې او ورپسې يې د ولسوالۍ اړوند محکمې و قاضیانو ته د زندانیانو د دوسیو د پروخت څېړني او ټولو قضایاؤ کې د عادلانه پرېکړو سپارښتنه وکړه.

دغه ډول ددیني عالمانو او ځايي اوسېدونکو دغوښتونو او وړاندیزونو داجراء په اړه د پلاوي له لوري د ځايي مسؤلینو سره مجلس ترسره سو او د خلکو هغه ستونزي او غوښتني چې د ولسوالۍ د اداري سره يې تړاو درلود هم هلته ورته رسېده ګي وسوه او پاته یوشمېر هغه مسایل چې د ولايتي او مرکزي اداري په صلاحیت کې دي د حل په موخه به له یادو ادارو سره شریکي سي. دهیئت لخوا د ولایت مقام د هدایت سره سم د ولسوالۍ مسؤلینو ته سپارښتنه وسوه، چې ټولو نظامي مسؤلینو او مجاهدینو ته دمشرانو او شیخانو علماء کرامو په واسطه درې ورځنی سیمینار جوړ او ورته اصلاحي بیانونه وسي.

همدارنګه د هیئت دمشرتابه محسن حاجي مولوي صاحب لخوا د موسی کلا ولسوالۍ اړوند ټولو نظامي مسؤلینو او د حوزو مشرانو ته د ولایت مقام هدایات او سپارښتني ورسول سوې، چې مجاهدین بايد دخپلو أمراو اطاعت وکړي په. دغه راز محترم مولوي صاحب دصفوفو دتصفیې کمېسیون دطرزالعمل په نهمه ماده کې راغلي موارد په وضاحت سره، مجاهدینو ته تشریح کړه او د هغوی څخه يې د عملي کولو جدي غوښتنه وکړه.

یاد پلاوي د خپل سفر په دوهمه ورځ، د نسیمیه مدرسې او دارالاحادیث د نوي جوړېدونکي ودانۍ او همدارنګه د موسی کلا ولسوالۍ د ډي ایچ روغتیايي مرکز څخه هم لیدنه وکړه او هلته يې د مسؤلینو سره دهغوی د فعالیتونو او اړتیاوو په اړه خبري وکړې او د ولایت مقام په استازیتوب يې دهمکارۍ ډاډ ورکړ. دیادوني وړ ده چې دغه هیئت هغه حقوقي دعوې چې له ډېره وخته يې جریان درلود هم وڅېړلي او دحل په موخه يې له اړوند ارګانونو سره شریکي کړې.

# ټاکل سوي هیئت د دېشو ولسوالۍ د نظارت او تفتیش چاري ترسره کړې

نېټه: ۱۴۴۳/۶/۸ هـ ق – ۱۴۰۰/۱۰/۲۱ هـ ل

د هلمند ولایت مقام لخوا د جنوبي او مرکزي ولسوالیو د دوهم ځل نظارت لپاره د بېلابیلو ریاستونو څخه ټاکل سوو استازو تېره ورځ د دېشو ولسوالۍ د نظارت او تفتیش چاري په داسي حال کي بشپړي کړې چي ددغه هیئت د مشرتابه شریف مولوي صاحب ترځنګ د امنیه قومندانی، استخباراتو ریاست، محاکمو، تعلیم او تربیې، محابسو، لښکرګاه ښاروالۍ، صحت، امر بالمعروف او اطلاعاتو او فرهنګ ریاست استازو هم شتون درلود.

د دیشو ولسوالۍ اوسېدونکو له یاد هیئت سره په لیدنه کي خپلي ټولي ستونزي او غوښتني له دوی سره شریکي کړې، د یادي ولسوالۍ اوسېدونکو له ګډ پلاوي مننه وکړه چي ددوی د ستونزو اورېدلو لپاره يې يادي ولسوالۍ ته سفر وکړ. د دېشو ولسوالۍ اوسېدونکو د خپلو مشکلاتو د شریکولو لپاره د یادي ولسوالۍ ۴ مخور کسان موسی صاحب، حافظ سراج صاحب، حاجي امان الله صاحب او سردار نواب خان د خپل نماینده ګانو په توګه ټاکلي وه، یادو نماینده ګانو د ولایت مقام لخوا د ټاکل سوي پلاوي سره د يادي ولسوالۍ ټولي ستونزي شریکي کړې.

دوی وویل: زموږ ولسوالۍ د تیرو ۴۰ کلونو راهیسي د هلمند ولایت له رسمي ولسوالیو څخه ګڼل کېده، خو د امارت په راتګ سره یاده ولسوالي حوزه ګرځول سوې په داسي حال کي چي ددې ولسوالۍ مساحت ۱۰۰ کېلومتره دی او د نفوسو تعداد يې ۴۲۰۰۰ زره دی همدارنګه دوی زیاته کړه چي زموږ ولسوالي د مرکز لښکرګاه څخه ډېره لیري موقیعت لري له همدې امله ددغه ولسوالۍ اوسېدونکي د ژوند ګڼ شمېر اړتیاوو او اسانتیاوو ته لاس رسی نلري همدارنګه دوی زیاته کړه چي موږ مخابراتي شبکو ته لاس رسی نلرو، ویالې مو خرابې دي، سړکونه نلرو، لازمو روغتیايي مرکزونه ته لاس رسی نلرو.همدا ډول دوی له ګډ هیئت څخه غوښتنه وکړل چي زموږ ږغ دي تر لوړو پوړو چارواکو ورسول سي ترڅو زموږ د ولسوالۍ ټولو ستونزو ته د حل په موخه رسیده ګي وسي او یاده ولسوالي بیرته د رسمي ولسوالۍ په توګه ومنل سي همدارنګه يې زیاته کړه چي د دیشو اوسېدونکي د اقتصادي ستونز او بشري اړتیاوو له نشتون سره مخ دي زموږ ږغ دي تر مرستندویه خیریه بنسټونو پوري ورسول سي.

د ولایت مقام لخوا استول سوو استازو له دوی سره ژمنه وکړي چي ددوی ټولي ستونزي او غوښتني به له ولایتي اداري او مرستندویه بنسټونو سره شریکي کړي. وروسته یاد هیئت د دېشو ولسوالۍ له مسؤلینو او مجاهدینو سره ولیدل ددوی ستونزي او غوښتني يې واورېدلي او دوی ته يې ډاډ ورکړ چي ستونزو ته به يې پروخت رسیده ګي کیږي او دوی ته يې د ولس سره د ښه چلند په اړه سپارښتني وکړې.